**مطبوعاتي اعلاميه**

**په نوي ډېزاين د (Khilafah.net) وېبپاڼې د جوړېدو اعلان**




(ژباړه)

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر، په ډېرې خوښۍ سره اعلان کوي چې د ۱۴۳۸هـ.ق، کال د ذولقعدې پر ۵ مه چې د ۲۰۰۱۷م کال د جولای له ۲۸ مې، د جمعې ورځې سره سمون لري، د راشده خلافت (Khilafah.net) وېبپاڼې په نوي ډېزاين په کار پيل وکړ.

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د دغې وېبپاڼې په اعلانولو سره له مهربانه الله سبحانه وتعالی څخه غوښتنه کوي چې له موږ سره د راشده خلافت په تاسيس کې مرسته وکړي، تر څو د اسلامي امت شان وشوکت او خوښي د ژوند د يوازينی طريقې په احيا کولو، چې د کايناتو خالق ورته غوره کړې او د عادل او صادق حاکم (چې له امت څخه وي) په رهبرۍ وساتل شي. هغه حاکم چې حوادث يې نهيلی نه کړی، له هېڅ دښمن سره معامله ونه کړي او له الله سبحانه و تعالی پرته له بل چا څخه د بري غوښتنه ونه کړي. په دې ډول، د الله سبحانه وتعالی وعده او د رسول الله صلی الله عليه وسلم زېری، چې نښې نښانې يې راښکاره او وړانګې يې رانږدې شوی دي؛ د نبوت پر منهج د دويم ځل خلافت په تاسيس حقيقت پيدا کړي. دا کار د الله سبحانه وتعالی ته ستونزمن نه دی.

حزب التحرير چې له ۶۰ څخه د زياتو کلونو راهيسې فعاليت کوي، د ټولو خنډونو، موانعو، د دښمن دسيسو او د خاينو د حکامو بې عدالتيو او ظلمونو نهيلی کړی نه دی. له خلکو غواړي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر تګلاره لکه څنګه چې ده (صلی الله عليه وسلم) په مدينه منوره کې دولت تاسيس کړ، د دولت د بيا تاسيس لپاره ملتې را ونغاړي. دغه حزب د شرعي منابعو پر اساس يو بې جوړې او د باور وړ اساسي قانون چمتو کړی او امت ته يې د يوې روښانه طرحې په توګه وړاندې کوي. که پلی شي، نو امت به د بشر په لاس د جوړ شويو قوانينو له تيارو څخه د اسلام او عدالت روښناييو ته را ستون کړي، هغه مهال به د دنيا او اخرت خوښي ورپه برخه شي.

حزب التحریر د الله سبحانه وتعالی په فضل او اراده او د جلیل القدر عالم عطا بن خلیل ابو رشته حفظه الله تعالی په لېوالتیا او غوښتنه له ټولو قانوني لارو چارو او شته وسایلو څخه ګټه اخلي او د یوې نوې پاڼې د ایجاد او خپرولو تقدیر کوي. په دې توګه په نوي ډیزاین د راشده خلافت وېبپاڼه اعلانوي، چې امت ته د خپلې خوښې مطالب ورسوي او سیاسي، فکري او فقهي بیانونه وړاندې کړي، تر څو د امت د حیاتي موضوع (د نبوت پر منهج راشده خلافت) په اړه پوهاوي را منځ ته کړي او امت د ګوډاګیو حکامو تر ولکې لاندې د جهل او سپکاوي له حالت څخه د ربښتیني اسلام تر سیوري لاندې د پرمختګ او سر لوړی حالت ته را وباسي. رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته لاندې غوره وینا پرېښې ده، چې فرمایي:

**«تَركتُكُم على بَيضاءَ نقية لَيلُها كنهارِها لا يَزِيغُ عنها إلاَّ هالِكٌ»**

*تاسې مې پر داسې روښانه لار پرېښودئ، چې شپه یې د ورځې په څېر ده. تر ما وروسته به له تاسو څخه له هغه چا پرته چې هلاک شوی، بل هېڅوک له دې لارې کوږ نه شي.*

دا نوې جوړه شوې د خلافت (Khilafah.net) وېبپاڼه مسلمانانو ته د اسلامي دولت د تاسیس او سقوط ځرنګوالی په ډاګه کوي او د هغه د بیا تاسیس د فرضیت او د تاسیس شرعي لارې په اړه معلومات وړاندې کوي. همدارنګه دا وېبپاڼه امت ته د خلافت دولت بڼه، نظام، بنسټ او تشکیل چې د حزب التحریر له لوري د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تګلارې سره سم، د دویم ځل (راشده خلافت) لپاره چمتو شوی، وړاندې کوي؛ چې د الله سبحانه وتعالی په اراده به ډېر ژر تاسیس کړل شي. دا وېبپاڼه خپلو لیدونکو ته د اسلام د حکمرانۍ نظام (خلافت) په اړه هر راز فکري کتابونه، سیاسي او فقهي لیکنې خپروي. پر دې سربېره دا وېبپاڼه د پرمختللې تکنالوژۍ په کارولو د حزب نشراتي خبرپاڼې، مجلې، د خپلو مهمو کړنو او فعالیتونو ارزونې، د خبرونو ټولګې او سیاسي شننې وړاندې کوي.

له مهربان الله سبحانه وتعالی څخه غوښتنه کوو، تر څو موږ ته لار ښوونه وکړي او دغه وېبپاڼه د نېکمرغۍ او د نور څراغ وګرځوي، څو خلکو ته د نېکۍ په لور لارښوونه وکړي. الله سبحانه وتعالی دې د دې وېبپاڼې مخلصو چلوونکو ته د خیر بدله ورکړي. هغه د بریا څښتن دی.

**ډاکټر عمثمان بخاش**
**د حزب التحریر، د مرکزي مطبوعاتي دفتر رییس**
**۱۴۳۸، د ذولقعدې ۵ مه**
**۲۰۱۷، د جولای ۲۸ مه، د جمعې ورځ**
**شمېره: ۱۴۳۸هـ/ ۰۵۳**